مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان ۲۰۲۱/۰۳/۲۴

د خوږو اوبو سرود

د خـوږو اوبـــو روان ســـرود غـــږيـــږي
ګـونـدې وي چې اوښکې وينـې و دَرېـــږي

پـــه ځـپـــو ځـپـــو روانـــــه کـمـــال خـــانـه
کله لـمـــر کلـه سپـــوږمۍ درتـــه موسـېږي

پر سيستان بـــه بيـا بـــهـــيـــر ګلونـــه راشي
اوس دې ګوډ تيمور په قبر کې ځـــورېـــږي

اوبـــــه آب دی د وطـــــن د مـــرغلـــرې
پـــه ځل ځل يې مـــرغـلـــره ده ځـلـــېـــږي

بـزګـــران بـــه بـــيـــا زرغـــونې تـــپـــې وايي
کـرونـــدې بـه پـه جـامـو کې نه ځايـــېـــږي

چـــې تـاخـونـــو ته د وړانګو مرغۍ ورشي
لـــه خـوښـــۍ بـه ورتـــه شمعې وژړېـــږي

د افـــغـــان مـــاشـــوم د رسم کـتـــابچه ده
د کاروان په زړه کې رود، بېړۍ رسمېږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ